**د افغانستان اسلامی امارت**
**د ارشاد حج او اوقافو وزارت**
**د مجمع علمی ریاست**
**د إفتاء آمریت**

شماره .............. تاریخ / / 1400

د دإستفتاء متن ( )

د نعمت الله)قادري (د إستفتاء متن!
یو سړی خپله خور یا لُور بل چا ته په نکاح ورکوي او ولي الأمر په مقابل کې ورڅخه پنځه سوه زره یا کمې زیاتې روپۍ اخلي د مَهر یعني) صداق (په نوم او دا روپۍ انجلۍ ته نه ورکوي، بلکې دغه روپۍ پلار، ورورایا مور اخلي او په کور کې یې استعمالوي .
پوښتنه دا ده، چې دغه روپیو ته مهر یعنې صداق ویل کیږي او که د خور خرڅول .او پلار، ورور، مور او کور ته د دغو روپیو اخیستل او استعمالول جایز دي او که نه؟
د قرآن، سنت او حنفي فقهې په رڼا کې مدلّل او اطمینان بخش جواب به عینًا ستاسو لطف او دیني خدمت وي.
(بیّنوا وأجركم على الله وبارک الله في علمکم وعمرکم)

د ریاست کتنه اوحکم (دإفتاء آمریت !په دې اړه لازم اجرآت ترسره کړئ) .
دإفتاء آمریت ګومارنه : (مولوی عبدالستار (خادم ) دې په دې اړه شرعي معلومات ورکړي)

الجواب باسم ملهم الصواب
حامدا لله ومصلیا علی رسول الله

محترم مستفتي صاحب !
د پورتنۍ استفتاء په هکله باید وویل شي، چې همدا نن سبا چې په اکثرو کورنیو کې هلکان او پیغلې انجلۍ بې واده شپې او ورځې تیروي، عمده لامل یې د مهر زیاتوالی دی .سربېره پردې مور، پلار او ورور د انجلۍ مهر د ځان لپاره یوه عایداتي منبع ګرځولې او انجلۍ ته یې نه ورکوي او که ورکوي یې نو ډېره کمه اندازه، بلکې ځینو سیمو کې، د نجلۍ پلار له مهر نه پرته، نور د واده لګښتونه هم د هلک په کورنۍ وراړوي، چې دا نه یوازې یو ناروا کار دی، بلکې په خپل اولاد باندي ظلم اود هغې دخرڅلاو په معنی ده .

د يادوني وړده ، چې د نکاح پرمهال د نجلی لپاره ټاکل شوې پیسې، چې د دودیزې طریقې له مخې د وَلور یا کوم بل څه په نوم یادیږي، شریعت کې ورته مهر، صَداق، نِحله ، عطیه ، عُقر،علائق او حِباء ویل کیږي .
ددي مهر اخیستلو لپاره دانجلی نه سربیره پلار او نیکه هم کولای شي، ورته قبض یې کړي .خو همدغه مهر یوازې د انجلۍ حق دی، هیڅوک پکې د بالغې انجلی له قلبی رضایت پرته، د تصرّف حق نه لري او د نابالغې انجلۍ رضایت سره سره بیا هم تصرف پکې کول ناروا دی که یې دغه پیسی استعمال کړي ارتکاب د حرامو یې کړی دی باند اجتناب تري وشي .

**والدليل على ماقلناه!**

**(۱) - وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً] أي المهر ( [سورة النساء الآية) ۴. (**

**(۲) - بِأَنَّهُ]أي المهر [اسْمٌ لِلْمَالِ الَّذِي يَجِبُ فِي عَقْدِ النِّكَاحِ عَلَى الزَّوْجِ فِي مُقَابَلَةِ الْبُضْعِ إمَّا بِالتَّسْمِيَةِ أَوْ بِالْعَقْدِ ۰۰۰اواسْمٌ لِمَا تَسْتَحِقُّهُ الْمَرْأَةُ بِعَقْدِ النِّكَاحِ أَوْ وَمِنْ أَسْمَائِهِ : الصَّدَاقُ وَالصَّدَقَةُ ، وَالنِّحْلَةُ ، وَالْعَطِيَّةُ ، وَالْعُقْرُ ...ولْأَجْرِ وَالْعَلَائِقَ وَالْحِبَاءِ) (رد المحتارباب المهرڅلورم ټوک ۲۲۰ مخ - مكتبة فريدية – پشاور(**

**(۳) - مہر کے کم مقدار ڈھائی تولہ چاندی ھے اور زیادت کیلے حد منقول نہیں .البتہ بنا بر حدیث ابو داود، باب الصداق ج2ص199 ، دار الكتب العربي - بيروت} :أَلاَ لاَ تُغَالُوا بِصُدُقِ النِّسَاءِ فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِى الدُّنْيَا أَوْ تَقْوَى عِنْدَ اللَّهِ لَكَانَ أَوْلاَكُمْ بِهَا النَّبِىُّ- صلى الله عليه وسلم {مہر میں زیادتی بہتر اور مستحب نہیں ھے اور یاغستان میں جو رواج ہے] کہ والدین نے حق مہر سے آمدنی کا ایک مستقل ذریعہ بنایا ہے [وہ بلا شک وشبہ ناجائز ہے .یہ لوگ حرہ کو فروخت کرتے ہیں اور ثمن خود کھاتے ہیں، جیسا کہ بنات واخوات کو وراثت میں کچھ نہیں دیتے ...لڑکی کا یہ والد حرام خور ہے، اس سے بچنا یا خوف خدا سے ہوسکتا ہے یا حکومت کی حد بندی سے) .(فتاوی فریدیه ج۴ /ص ۶۶-۶۷(**

**(۴) - لا يحل مال امرءي مسلم الّا بطيب نفس منه) مسند أحمد پنځم ټوک پنجم ۱۱۳ مخ -مطبعه مصر(**

**(۵) - وَلِلْأَبِ وَالْجَدِّ وَالْقَاضِي قَبْضُ صَدَاقِ الْبِكْرِ صَغِيرَةً كانت أو كَبِيرَةً إلَّا إذَا نَهَتْ وَهِيَ بَالِغَةٌ صَحَّ النَّهْيُ وَلَيْسَ لِغَيْرِهِمْ ذلك (فتاوای هندیة لومړیټوک ۳۱۹ مخ – مطبعه دارالفكر - بيروت(**

**(۶) - وَلِلْأَبِ قَبْضُ صَدَاقِ ابْنَتِهِ الْبِكْرِ صَغِيرَةً كانت أو بالغه وَيَبْرَأُ الزَّوْجُ بِقَبْضِهِ ٠٠٠وما سِوَى الْأَبِ وَالْجَدِّ من الْأَوْلِيَاءِ ليس لهم وِلَايَةُ الْقَبْضِ سَوَاءً كانت صَغِيرَةً أو كَبِيرَةً (بدائع الصنائع دويم ټوک ۲۴۰ مخ – مطبعه - دار الکتاب العربي)**

والله أعلم بالصواب

مولوی عبدالستار (خادم)          مولوي عبدالله (هائد)